إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا

بېشکه لمونځ په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی.

النساء-۱۰۳

# دلمانځه وروسته مسنون اذکار

(د صحیح احادیثو په رڼا کې)

تحقیق او تخریج : حافظ زبیر علی زئی حافظه الله



Al Bayaan Islamic Media البیان اسلامي رسنۍ

Download from: www.aghalibrary.com

١

# د لمانځه وروسته مسنون اذکار

أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ، اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

د الله نه بخښنه غواړم(درې ځل) . الهي! ته له ټولو عیبونو نه پاک یې، او سلامتیا ستا له اړخه ده، با برکته ذات یې، ای د لویي او عزت ور کولو څښتنه!.

صحیح مسلم (591)

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ

بغیر د الله نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، هغه یو دی، شریک نلري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاینه ده او هغه په هر څه قادر دی، الهي! ته چې چا ته څه ورکړې، د هغه څوک بندونکی نشته، او ته چې له چا نه څه بند کړې، د هغه څوک ورکونکی نشته، او ګټه نه رسوي شتمن لره د هغه مال ستا د عذاب په لرې کولو کې.

صحیح بخاری (844)، صحیح مسلم (593)


Download from: www.aghalibrary.com

# د لمانځه وروسته مسنون اذکار ۲

**معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ زما لاس ونيولو او را ته يې وويل:**

**په الله قسم چې تا سره محبت کوم، زه تا ته دا وصيت کوم چې د هر فرض لمونځ نه وروسته دا ذکر ويل پرې نږدې:**

**اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِکْرِكَ وَشُکْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ**

**الهي! ته ما سره په ذکر کولو، شکر ويستلو او غوره عبادت کولو کې مرسته وکړې.**

ابو داود (1522)

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّآ اِیَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَآءُ الْحَسَنُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ وَلَوْ کَرِهَ الْکَافِرُوْنَ**

**بغير د الله نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، هغه يو دی، شريک نلري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده او هغه په هر څه قادر دی، هيڅ طاقت او قدرت نشته (د ګناه نه د ساتلو او د نيکيو د کولو) مګر په اللّٰه ﷻ سره، بغير د الله نه د عبادت وړ (معبود) نشته او بغير د هغه نه د بل چا عبادت نه کوو، نعمت او احسان د هغه له اړخه دی، ټوله غوره ستاينه هغه لره ده، بغير د الله نه د عبادت وړ (معبود) نشته، په داسې حال کې چې عبادت او بنده ګي مو خاص هغه لره ده، که څه هم کفارو ته خوښه نه وي.**

صحيح مسلم (594)

Al Bayaan Islamic Media البيان اسلامي رسنۍ
Download from: www.aghalibrary.com

# دلمانځه وروسته مسنون اذکار ۳

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:
څوک چې دا اذکار د فرض لمانځه وروسته ووايي ټول ګناهونه به يې معاف شي که د سمندر د ځګ هومره هم وي.

سُبْحَانَ اللّٰهِ 33 ځلي — پاکي ده الله لره
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ 33 ځلي — ټول د کمال صفتونه الله لره دي.
اَللّٰهُ اَكْبَرُ 33 ځلي — الله تر ټولو لوی دی

او يو ځل دا ولولي:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ 1 ځلي

بغير د الله نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، هغه يو دی، شريک نلري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده او هغه په هر څه قادر دی.

صحيح مسلم (597)

کعب رضي الله عنه نه روايت دی چی رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کوم شخص چې دا اذکار د هر فرض لمانځه وروسته وايي:

سُبْحَانَ اللّٰهِ 33 ځلي — پاکي ده الله لره
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ 33 ځلي — ټول د کمال صفتونه الله لره دي.
اَللّٰهُ اَكْبَرُ 34 ځلي — الله تر ټولو لوی دی

نو د (اجر او لوړو درجو) څخه به نه محروميږي.

صحيح مسلم (596)

Al Bayaan Islamic Media البيان اسلامي رسنۍ
Download from: www.aghalibrary.com

# د لمانځه وروسته مسنون اذکار 4

د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دی: چې رسول الله ﷺ ماته حکم وکړ چې د هر فرض لمونځ نه وروسته معوذتین لوله.

صحیح، ابوداود (1523)، نسائی (1337)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نوم سره (پېل کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.

﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ○ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ○ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ○ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ○﴾

وو ایه: «الله یو دی، ځان بسیا دی. نه یې څوک زېږولی او نه له چا زېږېدلی دی، او هیڅوک یې انډول او سیال نه دی».

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ○ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ○ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ○ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ○ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ○﴾

وو ایه: «پناه وړم د سباوون څښتن ته، د هغه څه له شر څخه، چې پنځولي یې دي، د تروږمې له شره، چې راخپره شي، پر غوټو د پوکوونکو کوډګرو ښځو له شر څخه او د رخن (حسد کوونکی) له شر څخه، چې رخه(حسد) کوي».

Al Bayaan Islamic Media البیان اسلامي رسنۍ

Download from: www.aghalibrary.com

## دلمانځه وروسته مسنون اذکار 5

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝ مَلِكِ النَّاسِ ۝
اِلٰهِ النَّاسِ ۝ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۝
الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝ مِنَ
الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝﴾

ووايه: «پناه وړم د خلکو څښتن ته، د خلکو ټولواک ته، د خلکو ريښتي معبود ته، د شره د وسوسې اچوونکي، تښتېدونکي، چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي، که له پېريانو څخه وي، که له انسانانو څخه».

اسناده حسن ،ابوداود (1523)، نسائی (1337)، مسند احمد (201/4)

### دسهار لمانځه وروسته

د ام سلمه رضی اللہ عنہا نه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله د سهار لمانځه نه سلام وگرځولو نو دا به يي ويل:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَّافِعًا وَّ رِزْقًا طَيِّبًا وَّعَمَلًا مُّتَقَبَّلًا

يا الله زه ستا څخه گټور علم، پاک رزق او د عمل د قبليدو سوال کوم.

صحیح، ابن ماجه (925)، مسند احمد (322,306/6)

البيان اسلامي رسنۍ Al Bayaan Islamic Media
Download from: www.aghalibrary.com

# دلمانځه وروسته مسنون اذکار 6

فرض لمانځه نه وروسته د ایت کرسي ویلو فضیلت:

دابوامامه ﷺ نه روایت دی چې د رسول الله ﷺ څخه مې اوریدلي دي: کوم شخص چې د هر لمانځه وروسته ایت کرسي ووایي؛ نو بې له مرګ نه ددې او جنت تر منځ بل مانع نشته. (نسائی، عمل الیوم واللیلۃ 100، اسے ابن حبان اور منذری نے صحیح کہا)

**وضاحت** مطلب دادی چې ایت کرسي ویونکی به د مرګ نه وروسته سیده جنت ځي.

﴿ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ۭ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۭ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَاۗءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا يَـــــُٔـوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَھُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ○﴾

الله - له ده پرته بل لمانځوړ نشته، تلژواند، سمبالوونکی، تل قایم دی، نه یې پرکالي نیسي او نه خوب. څه چې په اسمانونو او مځکه کې دي، ټول د هغه دي. څوک به وي، چې د هغه له اجازې پرته په وړاندې یې شفاعت وکړي؟ په تېر او راتلونکي یې پوهېږي. څوک یې له پوهې څخه نه خبرېږي، خو دا چې پخپله وغواړي. پلاز یې اسمانونه او مځکه رانغاړلې ده، او د دواړو (اسمان او مځکې) ساتنه یې نه ستومانوي. هغه لوړ، ستر دی.

(سورۃ البقرۃ: آیت: 255)

اسنادہ حسن، السنن الکبری للنسائی (9/44 ح 9848، دوسرا نسخہ: 9928)

البیان اسلامي رسنۍ Al Bayaan Islamic Media

Download from: www.aghalibrary.com

# د لمانځه وروسته مسنون اذکار 7

**د ماښام لمانځه وروسته**

د عماره بن شبیب رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چا چې د ماښام لمانځه نه وروسته دا الفاظ وویل:

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ 10 مرتبه

نشته وړ د عبادت مګر یواځې یو الله دی، یو دی شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي او ستاینې دي، ژوندي کول او مړه کولکوي، او هغه په هر څه قادر دی.

الله به د داسې انسان ساتنې ته پرېښتی راولیږي چې تر سهاره به یې د رټل شوي شیطان څخه ساتي، الله به دده لپاره 10 نیکۍ ولیکي، 10 هلاکوونکي ګناهونه به یې لرې کړي او د 10 آزادو غلامانو ثواب به ورکړي.

حسن، ترمذی (3534) او امام ترمذي رحمه الله ویلي چې حسن غریب صحیح، مسند احمد (227/4)

رسول الله ﷺ به د لمانځه وروسته دا کلمات ویل:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَنْ اُرَدَّ اِلٰى اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ

ای ربه زه په تا پورې د بخل نه پناه غواړم، په تا پورې د ډار نه پناه غواړم، او پناه غواړم له دې چې ما ذلیل عمر ته وګرځوې، او پر تا پورې د دنیا د فتنې (دنیاوي آزمایښت) نه پناه غواړم او پر تا پورې د قبر عذابه پناه غواړم.

رواه البخاري-۲۸۲۲

Al Bayaan Islamic Media البیان اسلامي رسنۍ
Download from: www.aghalibrary.com

# دلمانځه وروسته مسنون اذکار 8

**د وتر لمونځ وروسته** رسول الله ﷺ به درې ځل دا کلمات ویل:

## سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ ③ ځلې

پاک دی (زما رب) بې نهایته مقدس پاچا

په دریم ځل به یې په لوړ اواز ویل او دا به یې ډیر جګ ویل:

## رَبِّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ

د ملایکو رب او د روح ( جبرائیل امین) رب.

صحیح، ابوداود (**1430**)، نسائی (**1700,1733**)، الدار قطنی (**31/2** ح **1644**)

البیان
Islamic Media اسلامي رسنۍ
AIM

Al Bayaan Islamic Media البیان اسلامي رسنۍ
Download from: www.aghalibrary.com